# زمونږ پروردګار، تبارک وتعالی، هره شپه په وروستۍ پاتې دریمه برخه کې د دنیا اسمان ته راکوزیږي

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «زمونږ پروردګار، تبارک وتعالی، هره شپه په وروستۍ پاتې دریمه برخه کې د دنیا اسمان ته راکوزیږي وايي چې: "څوک شته چې ما راوبلي او زه يې بلنه ومنم؟ څوک شته چې زما څخه سوال وکړي او زه يې ورکړم؟ څوک شته چې بخښنه راڅخه وغواړي او بخښنه ورته وکړم؟"
[صحيح] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم څرګندوي چې الله جل جلاله هره شپه دشپې په دریمه وروستۍ پاتې برخه کې د دنیا آسمان ته راکوزیږي، خپل بندګان هڅوي چې راوبې بلي، ځکه هغه ذات د هغه چا بلنه مني چې راوبې بلي، او دې ته يې هڅوي چې خپلې غوښتنې ورڅخه وغواړي، له هغه ذات څخه چې څوک غوښتنه وکړي هغه يې ورکوي، او (خپل بندګان) دې ته رابلي چې د خپلو ګناهونو بخښنه ترې وغواړي، ځکه هغه ذات خپلو مومنو بندګانو ته بخښنه کوي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/10412